# د اشرف خان هجري اخلاقي شاعري

## Morality in the Poetry of Ashraf Khan Hijri

Dr Ahmad Ali aajiz*

**Abstract**

Ashraf Khan Hijri the son of great Khushal Khan Khattak is regarded as a classical poet. He has addad much to Pashto poetry. His contribution to Pashto literature is his only one Deewan. His poetry contains the subjects regarding Love, patriotism, prison, pessimism and morality. In this research article his poetic approach towards morality is discussed. He has written a number of verses on moral values, ethics etc. Like other classical poets he has paid heed to morality in his poetry but up to now this aspect of his poetry was not analyzed. That is why his relevant verses on the subject are brought out and commentary is made for the same. Hope that the readers will get new and fresh information about this dimension of Ashraf Khan Hijri's poetry.

د تاریخ پاڼې ګواه دي چې د پښتو شاعرۍ ابتداء د معلومواثارو ترمخه د رزمیه، دعائیه، اصلاحي او اخلاقي شاعرۍ نه کېږي او زمونږ تقریباً د هر دور شاعرانو د پند او نصیحت او د اخلاقو د درس خپرونه په خپلو شعرونو کښې کړې ده او بیا کلاسیکي دور خو په دې حواله ځانګړے مقام لري. د دغه دور یو یاد او نوموړے شاعر اشرف خان هجري هم دے. دې نه وړاندې چې د اشرف خان هجري په اخلاقي شاعرۍ بحث وشي دا څیرو چې "اخلاق" څۀ شے دے.

* Assistant Professor Pashto Department UOP

ښاغلی بهادر شاه ظفر کاکاخېل لیکي:

"د خلق جمع – خویونه، عادتونه، د راشه درشه، خصائل عادات، سړیتوب، انسانیت، مروت ، هغه علم چې په هغې کښې د تهذیب نفس، معاداو معاش وغېره ذکر وي"[۱].

اخلاقو ته په انګرېزۍ کښېMorality وئیلے شي. دځینې خلقو خیال دے چې Ethics (ضابط) ورته هم وئیلے شي. بهر حال د Ethics تعریف آکسفورډ ډکشنري داسې کوي:

"A set of Principles, especially one relating to or affirming a specified group or form of conduct"[۲]

ترجمه: داسې اصول چې دیوې خاصې ډلې خپلو کښې تړون او مضبوطیا ته وده ورکوي یا دضابطې یو هېئت.

دفلسفې لغت داخلاقو تعریف دا شان کوي:

Morality (from the Latin *moralitas* "manner, character, proper behavior") is the differentiation of intentions, decisions, and actions between those that are distinguished as proper and those that are improper. Morality can be a body of standards or principles derived from a code of conduct from a particular philosophy, religion, or culture, or it can derive from a standard that a person believes should be universal. Morality may also be specifically synonymous with "goodness" or "rightness." Ethical philosophy is the Golden Rule, which states that: "One should treat others as one would like others to treat oneself."[3]

ترجمه: اخلاقیات (دلاطیني لفظ "مارلټاس" نه ماخوذ دے چې سلوک، کردار او خاص رویې ته وئیلے شي) دارادو ، فېصلو او کارونو هغه بیلګون دے چې دخاص او عام تر مېنځه ئې تمیز کېږي. اخلاق دهغه معیارونو یا اصولو نوم دے چې دفلسفې مذهب یا کلتور دیوې خاص ضابطې نه اخستے شوي وي یا دا (اخلاق) به د هغه معیار نه اخستے شوي وي چې دیو کس په خیال هغه

آفاقي وګڼلې شي. اخلاقياتو ته خصوصاً دښۀ والي او په حق دکېدلو مترادف هم وئيلې شو. اخلاقي فلسفه دسرو زرو هغه اصول دے چې دا وائي: "يو کس دې خلقو سره داسې رويه ساتي څنګه چې ئې دنورو خلقو نه طمع کېږي"

د پورته ذکر شوو دواړو تعريفونو نه جوتېږي چې اخلاق د رويو، خويونو، عادتونو په يو منظم شکل کښې پېش کؤلو او د انسان نه چې د کوم سلوک او خوئي او کړو وړو تقاضه کېږي، هغسې کولو ته وائي.

داشرف خان هجري دهغۀ ددېوان او شاعرۍ په اړه ښاغلے شېر افضل بريکوټي ليکي:

"دے په کال ۱۰۴۴ھ کښې په مقام داکوړي پېدا شوے وو او په ډېر نازونعم ئې تربيت شوے وو. دخپل پلار خوشحال خان خټک دوفات نه شپږ کاله روستو دے په کال ۱۱۰۲ھ کښې وفات شوے وو. دوفات په وخت کښې اشرف خان هجري ددوه شپېتۀ کالو وو. دے دخپل پلار جانشين او دمشرۍ مستحق وو. کلام ئې دمشهور محقق همېش خليل په کړاؤ چاپ شوے دے. په کابل کښې هم ددې عظيم شاعر په کلام ډېر قيمتي معلومات منظرِ عام ته راغلي دي. دخپلې شاعرۍ په حقله دهجري دعویٰ محض شاعرانه تعلي نۀ ښکاري بلکې په دې کښې دشاعر دخپلې پښتو ژبې سره مينه او همدردي په نظر راځي"[۴].

پورته حواله کښې داشرف خان هجري دزېږون نېټې په اړه زلمے اديب او محقق حنيف خليل ۱۰۴۹ھ په مطابق ۱۶۴۰ء دا دوېم قول هم نقل کړے دے[۵].

داشرف خان هجري دشاعرۍ په اړه حنيف خليل څۀ داسې ګويا دے:

"اشرف خان پشتو غزل کا استاد شاعر ہے۔ شاعری میں کلاسیکی روایت کو برقرار رکھتے ہوئے عشق و محبت، رنج والم او قید و بند کی مایوسیوں کو موضوع بنایا ہے۔ ان کی شاعری میں مزاحمتی اور جلالی رنگ بہت نمایاں ہے۔ پشتو کے بلند پایہ شعراء میں ان کا شمار کیا جاتا ہے" [۶]۔

ترجمه: اشرف خان هجري دپښتو غزل استاذ شاعر دے. هغۀ په شاعرۍ کښې کلاسیکي روایت برقرار ساتلو سره دعشق و محبت، غم او درد او دقېد و بند مایوسۍ موضوع جوړه کړې ده. دهغۀ په شاعرۍ کښې مزاحمتي او جلالي رنګ ښکاره دے. دپښتو داوچتې پایې په شاعرانو کښې دهغوي شمېره کېږي.

د اشرف خان هجري په شاعرۍ کښې پرته د نورو خصوصیاتو نه یوه خوبي د اخلاقو او واعظانه انداز هم ده خو د بده مرغه د هغۀ دشعر دې اړخ ته چا پاملرنه نۀ ده کړې. د هغۀ په غزل، زنداني شاعرۍ، تخیل او قصیده تر اوسه ډېره توجه شوې ده ولې د هغۀ د شاعرۍ د اخلاقو جوهري صفت لا تر اوسه په تیارۀ کښې پرېښودلے شوے دے ځکه نو په ښاغلي هجري چې کوم ځانګړې کتابونه د خصوصي مجلو نمبرې وتې دي، هغه د هجري د اخلاقي شاعرۍ په اړه خاموشه دي. البته چا نه چا ئې صرف په دوو کرښو کښې د شاعرۍ د اخلاقي صفت اعتراف کړے دے.

د اشرف خان هجري د شاعرۍ په اړه همېش خلیل لیکي:

> "اشرف خان هجري د خپلې قبیلې سردار او دخپل دور منلے شوے شاعر دے. د هغۀ شاعري د هغۀ د شاعرانه عظمت او لوئے شان لوئے دلیل دے. پرته د اخلاقي، اجتماعي او عشقیه مضامینو او وطني رنګ د شوخۍ، خزان و ملال، یاس، درد او حسرت د هجري د شاعرۍ ښکاره خاصیتونه دي" [۷].

ډاکټر حنیف خلیل صرف دومره قدر لیکي:

"د دۀ اشعار د وطني مينې او توريالتوب نه ډک دي او ورسره ورسره د مينې د دنيا يو زړۀ سوے شاعر هم دے. اخلاقي اشعار هم وائي او ښۀ په ساده او خوږ رنګ کښې ئې وائي"[۸].

زمونږ په کلاسيکي شاعرۍ کښې اخلاقي رنګ ډېر غالب دے. هم دغه وجه ده چې د کلاسيکي دور د پيـاوړي شاعر اشرف خان هجري شاعرۍ کښې هم تر ډېره حده اخلاقي مضامين شته. لکه د دنيا نا پائيداري، خاکساري، درويې مثبت بدلون، پردے حق نۀ وهل او دچا حق تلفي نۀ کول، دمرګ ياد، دفنا نظريه، داوږدو اوږدو اميدونو نه ځان ژغورنه، حُسنِ سلوک، خپل ځادر سره پښې غزول وغېره.

اوس د اشرف خان هجري د ديوان نه د مثال په توګه اخلاقي مضامين وړاندې کووم او ورسره پرې تبصره هم کووم.

هجري دمرګ په حقيقت د دنيا په نا پائيدارۍ اود نعمتونو په زوال او فنا باندې څۀ داسې خپل خيالات څرګندوي.

چا چې خوب په پالنګ نۀ کۀ بې اطلسو
د لحد په خاورو وګوره چې اودۀ شول
ډېرو لوئې فکرونه کړل په ډاډ د عمر
بې رخصته ئې کوچ وکړو چې په تلۀ شول
هجري تۀ به څۀ هوس په خپل ژوندون کړې
چې ياران دې په مزکه کښې وراستۀ شول[۹]

دلته شاعر د دنيا په نعمتونو کرښه راکاږي چې دا فاني او پاتې کېدونکي دي. اصل ځائے قبر دے. بيا وائي چې د مرګ وخت او وعده پوره شي نو بنده ته د رخصت اخستو موقع هم ته لاس نۀ ورځي او بيا ځان ته مخاطب کېږي چې په خپل ژوندون هوس مۀ کړه ځکه چې تا نه مخکښې ستا ياران هم زمکې خوړلي دي.

هم دغه شان د عمر د بې وفائۍ او ختمېدو ذکر او تلقين په اخلاقي پېرايه کښې څۀ په زړۀ راښکونکي انداز داشان کوي:

تـۀ پـه کومـه طمـع دومـره بـې غمـي کـړې
چې لـرې پـه مخکښـې ګـور غونـدې زنـدان
تـا بـه کلـه زنـده پرېـږدي پـه دنيـا کښـې
چـې ئـې بوتـۀ پـه نوبـت سـتا بزرګـان
ګـور دحـال پـه ژبـه تـل وائـي و تـا تـه
بنـده څـو بـه تـۀ ښـادي کـړې پـه جهـان
آرائـش د بــې وفـا کورونــو مـۀ کــړه
قــديمي وطــن تــه اســتوه ســامان [۱۰]

اسلامي تعليماتو کښې هم دفنا او بقا بحثونه ډېر دي. اسلامي نظريات ددې دنيا دفنا په اړه تفصيلات لري. قرآن کښې ددې ژوند او دنيا دختمېدو او فنا کېدو په باره کښې ډېر آيتونه وارد شوي دي. هم په دې تسلسل کښې حديثونو کښې هم دمرګ نه پس ژوند ته اهميت ورکړے شوے دے او دا دنيا دارالاسباب او دارالعمل ګڼلے شوې ده او حقيقت هم داسې دے چې دا دنيا صرف په دې وجه اهمه ده چې دا راتلونکي ژوند دپاره دې ددې ارزښت و منلے شي. هم دا تعليمات دنورو کلاسيکي شاعرانو سره سره دهجري په شاعرۍ کښې هم موجود دي چې دا پورته شعرونه ترې دنمونې په توګه وړاندې کړے شول. هم په دې تسلسل کښې عمر او ژوندون ته د يوې بلې زاويې نه ګوري او انسان ته دغه اخلاقي درس ورکوي چې د باد په شان تيز رفتارۍ سره تېرېږي.

چــې دې مينــه پــه زړۀ ډېــره ددنيــا ده
اند ېښــنه دې بــې هــوده واړه خطــا ده
تـۀ چـې تـل پـه نسـل نـاز کـوې غريبـه
نــاز دې واړه خطــائي اومــه رجــا ده

پــه دا بــاد عمــر بــه څـئ بــاور د چــا وي
چــې بقــا مــې ډېــره تنــده تــر ســبا ده [۱۱]

هجري په يو شعر کښې دغه اخلاقي درس هم ورکوي چې دنيا کښې سر د پاسه سر شته. او بيا په خپل حکمت او علم خو ښځي کبر او غرور نۀ دے پکار لکه:

د حکمـت پـه زور دې هيڅـوک غـرۀ نـۀ شـي
دسـت لـه دسـته پـه دنيـا ګـوره بـالا دے [۱۲]

اوس د اشرف خان هجري د څو نورو اخلاقي مضامينو شعرونو ته ځير کېږو.

ابتـــدا لـــه څـــۀ پېـــدا اخـــر پـــه څـــۀ شـــي
لـــه غفلتـــه ولـــې هېـــر اول اخـــر کـــړې
اولاً ځـــائے دې رحـــم آخـــر دې ګـــور دے
نـــن حـــرص تـــه مـــخ د مزکـــې مختصـــر کـــړې
اســتفســـار د حـــلال نـــۀ کـــړې لـــه حرامـــو
د معـدې ميـدان پـرې ډک لکـه بقـر کـړې [۱۳]

دلته هجري انسان ته د هغۀ حقيقت ور په ګوته کوي او يو قسم له د خوشحال د خود شناسۍ د نظريې تشريح هم کوي. بيا وائي چې د غوا په شان د حلال حرام تميز ورکول نۀ دي پکار. انسان کښې د عقل او شعور او بيا د هغې د مثبت کار اخستو خاصيت د انسان اصل اخلاقي ښکلا او کالے دے.

او وړاندې هم په دې قصيده کښې د ځينې قرآني مضامينو نه استفاده کوي او د انسان د اخلاقو د رغاونې د پاره ئې څۀ داسې بيانوي:

"لا تقـرب مـال اليتـيم" دې لوسـتے نـۀ دے
ځکــه خــون د غريبــانو محــاخر کــړې. [۱۴]

پورته شعر کښې هجري د يتيم د مال نه د ځان ژغورنې د پاره د قرآن شريف د دې آيت نه مضمون اخذ کړے دے:

"وَلاَ تَقْرَبُواْ مَالَ ٱلْيَتِيمِ إِلاَّ بِٱلَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُ وَأَوْفُواْ بِالْعَهْدِ إِنَّ ٱلْعَهْدَكَانَ مَسْؤُولاً" [۱۵]

ترجمه: او مۀ نزدې کېږئ د يتيم مال ته مګر په ښائسته (يعنې جائزه طريقه چې د اسلام تعليماتو کښې ئې ښودنه شته) طريقه تر دې چې هغه (يتيم) بلوغت ته ورسي او وعده پوره کوئ. بې شکه د وعدې په اړه به پوښتنه کېږي.
او هم دغه شان وړاندې ليکي:

په دال حال به هر ګز تېر په صراط نۀ شې
که بدن د باد په مخ لکه وزر کړې

علم لږ خو عمل پرې ډېر يوه کليه ده. که چرې علم باندې عمل نۀ وي نو هېڅ فائده ترې و نۀ شوه. قرآن کښې هم د علم په اهميت او ورسره د عمل په ضرورت يو شمېر آيتونه د نظر نه راتېرېږي. هجري هم په خپل يو شعر کښې ډېر په ځائے د علم او عمل په اړه د قرآن د يو آيت نه څۀ ښۀ استفاده کوي:

"مَثَلُ ٱلَّذِينَ حُمِّلُواْ ٱلتَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ ٱلْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَاراً "[۱۶]

ترجمه: مثال د هغه کسانو چې تورات ئې پورته کړے دے (يعنې د دې ذمه داري ئې اخستې ده) او بيا نۀ پورته کوي (د تورات) دې ذمه دارۍ لره (يعنې عمل پرې نۀ کوي). د دوي مثال په شان د هغه خر دے چې پرې بار و تړلے شي.
د هجري شعر په دې مضمون څۀ دا شان دے:

بې عمله علم څۀ دے که پوهېږې
لکه بار د صيحفو حامل ئې خر کړې[۱۷]

رحمان بابا د اخلاقو تر ټولو ستر مبلغ او د شاعرِ انسانيت په خطاب ياد دے، هم د قرآن د مذکوره آيت نه په خپل يو شعر کښې ډېره فني استفاده کړې ده چې د لته به ئې په ضمن کښې را نقل کؤل د فائدې نه خالي نۀ وي:

علميت د بې عملو عالمانو
لکه ګنج د کتابونو په خرۀ بار شۀ[۱۸]

هسې خو د هجري کښې ديوان کښې اخلاقي مضمونونه چېړلے شوي دي خو د مال د بې وفائۍ ذکر څۀ په ښۀ انداز کوي چې دا مالونه پرون د بل

چا وو او سبا به د بل چا وي. دې مالونو او دولت په خپل مکر و فرېب ډېر وګړي د دنیا د مخ نه د زمکې ګېډې ته ورسؤل ځکه نو په دې ملا تړل نۀ دي پکار ولې چې دبنده حېثیت ددې مالونو په حواله محض دڅوکیدار دے:

هـــومره مـــۀ کـــړه پـــه مـــال نـــازو نـــه
اول د نـــــــــورو وو دا مالونـــــــــه
لـــه تـــا بـــه کلـــه یـــاري ترســـره کـــړي
پـــه مکـــر ئـــې تېـــر کـــړ عـــالم تـــر ســـره [۱۹]

غرض دا چې هجري هم د خوشحال د مکتب یو تکړه او قابل استاذ دے. د هغۀ دیوان د رنګا رنګ ملغلرو مجموعه ده چې پکښې د اخلاقو پرچار هم په ښۀ انداز تر څۀ نا څۀ حده خامخا شته. د مشت از نمونۀ خروار په مصداق د هجري د دیوان نه په دغه پورته ذکر شوو اخلاقي رنګ لرونکو شعرونو اکتفا کووم خو دا خبره په ډاډه زړۀ کېدے شي چې دنورو کلاسیکي شاعرانو په څېر هجري هم دخپل دور داخلاقي انحطاط ډېر غوره احساس لرلو. هم دغه وجه ده چې دپښتو دشاعرۍ دعظمت دغه روایت ته ئې په خپلو شعرونو کښې دوام ورکړو.

تـۀ پـه کومـه طمـع هـومره بې غمـي کـړې
چې لرې پـه مخکښې ګـور غونډې زندان
تـا بـه کلـه زنـده پرېـږدي پـه دنیـا کښـې
چـې ئـې بوتـۀ پـه نوبـت سـتا بزرګـان
ګـور د حـال پـه ژبـه تـل وائـي و تـا تـه
بنـده څـو بـه تـۀ ښـادي کـړې پـه جهـان [۲۰]

# حوالې

[۱] کاکاخېل، بهادر شاه ظفر، ظفر اللغات، (جديد اېډيشن)، ( يونيورسټي بک اېجنسي خېبر بازار پېښور)، مطبوعه پاکستان اېجوکېشنل پرېس، لاهور، سن طبع نامعلوم، ، ص ۶۹ – ۷۱.

[2] Cathrine soans, angus steresen: Oxford Dictionary of English, (Second Edition Revised), oxofre University Press – ۲۰۰۵, P: ۵۹۵.

[3] Antony Flow: golden rule, ''A Dictionary of Philosophy'', Pan books London, ۱۹۷۹, P.۱۳۴.

[۴] بريکوټي، شېر افضل خان: دپښتو شعر و ادب تاريخ، ملت پرنټرز لاهور، وړومبے چاپ ۱۹۹۵ء، مخ ۲۷۷.

[۵] *حنيف خليل: پشتو زبان وادب کی تاريخ (ايک خاکه) 'يونيورسٹی بکس پبلشرز پشاور' اگست* **۲۰۰۹ء، ص ۱۳۲۔**

[۶] هم دا پورته اثر، مخ ۱۳۷.

[۷] ديوان اشرف خان هجري، تحقيق ، ترتيب او سمونه: همېش خليل(پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون) ۲۰۱۱ء، مخ ۳۷.

[۸] حنيف خليل، ډاکټر، د پښتو کلاسيکي شاعري، (ايم اے پښتو اول کال دوېمه پرچه نوے کورس) يونيورسټي پبلشرز افغان مارکيټ قصه خوانۍ پېښور، دوېم اېډيشن، اکتوبر ۲۰۱۱ء، ص ۱۰۸

[۹] ديوان اشرف خان هجري، ص ۱۱۹.

[۱۰] همدغه اثر، ص ۳۰۸- ۳۰۹

[۱۱] همدغه اثر ، ص ۳۱۴

[۱۲] همدغه اثر، ص ۳۴۱

[۱۳] همدغه اثر، ص ۳۵۹ – ۳۶۰.

[۱۴] همدغه اثر، ص ۳۶۰:

[۱۵] قرآن مجيد ، سورة بني اسرائيل، آيت ۳۴.

[۱۶] قرآن مجيد ، سورة الجمعه، آيت ۵.

[۱۷] ديوانِ اشرف خان هجري، ص ۳۶۰ – ۳۶۱ . دلته وړومبي شعر کښې هجري د پُلِ صراط او په هغې د تنګ د سختۍ ذکر کوي.

[۱۸] درحمان بابا کليات، (تحقيق، ترتيب او سمونه: دوست محمد خان کامل مومند ، قلندر مومند)، دچاپ ځائے کوهاټ روډ پېښور، وړومبے چاپ ۱۹۸۴ء، مخ ۲۴۲.

[۱۹] ديوانِ اشرف خان هجري، ص ۳۸۲

[۲۰] مخ ۳۰۸